# د شعر حېثیت د قرآن کريم او نبوي احاديثو په رڼا کښې

# Importance of Poetry in terms of Quran and Hadith of the Holy Prophet (PBUH)

Ashfaq Ali [1], Ihsan Ullah [2]

In terms of dictionary meaning poetry means understanding, knowledge, and wittiness. Literally poetry means (mufti) speech.in Arabic language yasir bin kahtan and in Persian language Bahram gour and in Pushto language Ameer karoor, their poetry is famous .in Islamic sharaiat poets are given high fame and their poetry is well known and stands on high grounds. That poetry which does not breach the Islamic code ,our holy prophet (pbuh)has given to poetry a high status and has declared poetry wisdom and has valued many poets who has worked for the up brining of islam and has used their pen for the betterment of Islam and in Quran literally knowledge is taken from poetry and companions of the holy prophet has recited many poetry and the holy prophet pbuh has never recited any poetry because in Quran recitation of poetry is considered haram but from other poets our holy prophet use to listen poetry and certainly use to praise poets. That poetry is not allowed in Islam, which transcends the barriers of Islam and results in social moral and religious degradation.

شعر د لغت له مخې د پوهې ، علم ، فطانت او زيرکتيا په معنی سره دے د اصطلاحي تعريف په هکله ئې خورا زياتې نظرئې موجودې دي هر چا د خپل ليد لوري ، ايډيالوژۍ او پوهې له مخې تعريف کړے دے ، خو هغه تعريف چې په زياترو کتابونو کښې موندل کېږي دادے چې شعر هغه موزون او مقفی کلام ته وئيل کېږي چې له پيله ئې د موزون والي قصد شوے ، په عربي ژبه کښې د يعرب بن قحطان ، فارسي کښې د بهرام ګور او په پښتو ژبه کښې د امير کروړ شعرونه لومړني شعرونه دي ، اسلامي شريعت شعر ته ځانګړے مقام ورکړے دے ، هغه شاعران ئې ستايلي چې د وينا او کړنه ئې ټکر ونه لري، شعر ئې د دين د اصولو سره مخالفت ونه لري ، رسول الله صلی الله عليه وسلم شعر حکمت بللے دے، هغه شاعران ئې ستايلي او هڅولے چې د دين د اوچتوالے او حماسي ډګر د پياوړتيا لپاره خپله ژبه او قلم کاروي ، د قرآن کريم په تفسير کښې د شعر څخه استفاده

---

1 Lecturer, Department of Islamic Theology, Islamia College University Peshawar.

2 Assistant Prof Department of shariah & Law, University of Jalal Abad Afghanistan

شوې ده ، صحابه کرامو شعرونه وئیل خو په خپله رسول اکرم صلی الله علیه وسلم شعر نه دے وئیلے او د قرآن کریم د حکم په اساس وربانديې شعر وئیل حرام وو ،خو د نورو شاعرانو شعرونه ئې اورېدل ، کله کله به ئې د هغوي شعرونه زمزمه کول او د هغې ستاینه ئې کړې ده، د هغه شعر څخه ئې منع کړے چې د شریعت د اصولو سره ټکر ولري یا هم د فحشا د خپرولو سبب کېږي.

د اسلام مبارک دین د بشر لپاره په خپله غېږه کښې ټول هغه اصول او قوانین راټول کړي دي چې دے ورته د قیامت تر ورځې پورې اړتیا لري ، هېڅ داسې میدان او د ژوندانه برخه نه ده پاتې چې دغه سپيڅلے دین پکښې لارښوونې و نه لري له دغه مواردو څخه یو هم شعر دے ، شعر عربې نړۍ کښې د اسلام له راتلو څخه مخکښې د ښه او بد د ځلولو او د رقیبو قبایلو ترمنځ د ویاړونو او ویرونو معیار او میزان وو ، آن تردې چې د جګړې په غبار اود تورو په شرنګهار کښې به ښکلو غاړو خپل خپل شاعران حاضر کړي وو چې د شعر په لطیفه ژبه د خپلو جنګیالیو احساسات راوپاروي او پر مقابل طرف ګوذار او کسات اخیستلو ته ئې وهڅوي .

کوم عرب شاعر به چې د ژبې ځواک ښکاره کاوه نو په شعر وئیلو کښې به ئې په اصطلاح له خولې اور بادېده ، دا صفت یوازې د سړیو نه بلکې په دې صفت کښې ورسره مېرمنې هم شریکې وې ، ددوي شعرونه ټول په عصبیت او د جنګې خلکو تیزولو او ددوو ډلو او دوو قومونو ترمنځ ددښمنۍ اور ته د پوکې ورکول وو کوم ته چې د اسلام مبارک دین کښې هېڅ ځاے نه دے ورکول شوے او هغه شعر مقبول بلل شوے چې د شریعت د اصولو سره اړخ ولګوي، داسې نه وي چې د دۀ د اشعارو له مخې به په دې پوه نه شې چې د دۀ هدف څه دئ؟ خپل مخاطب څه ته بلي؟ د ده په شعرونو کې به واضح او سپېڅلی پیغام ونه مومې، بس غوارې خپل مخاطب راضي کړي، له هغه یو څه ترلاسه کړي، که نور هېڅ نه وي نو یو شاباسی خو ئې په برخه شي!!

هسې د بې مقصده ویناوو او خوشې خبرو ګوډی وي، په رګونو کې ئې د عمل کولو جوهر نه وي، د خبرو د میدان اتل وي خو د عمل د میدان ملا ماتی او شل، هغه څه وائي چې نه ئې د کولو اراده لري او نه ئې همت! په لنډه توګه وئیلاے شو چې د شعر وئیل او لیکل په اسلامي شریعت کښې جایز دي خو باید په حقیقت باندې بناء وي ، دروغ نه وي او د خلکو د دوکه کولواو بې لارې کولو سبب نه شي.

د موضوع په اړه پوښتنې :

ددې څېړنيزې موضوع په لوستلو سره به لوستونکے د لاندې پوښتنو ځواب ومومي :

1. شعر څه ته وائي ؟

2. په قرآن کريم کښې د شعر يادونه او د هغې د حکم په هکله څه وئيل شوي که نه ؟

3. د شعر په هکله رسول الله صلى الله عليه وسلم څه لارښوونې کړې دي؟

4. ايا رسول الله صلى الله عليه وسلم شعر وئيلے دے ؟

5. آيا د نبي عليه السلام په وخت کښې صحابه کرامو شعر وئيلو ؟

## د موضوع اهميت

واقعيتونو او خبرونو ته د خلکو لاس رسے ، د ټولنې او وګړو له دردونو څخه د خلکو خبرول او مرستې ته ئې د خلکو د توجه راجلبول ، خلک د دين له چارو خبرول ، ديني چارو ته د خلکو متوجه کول او په يادو ټولو برخو کښې د خلکو هڅونه په بيلابيلو وسايلو تر سره کيږي ، چې له ډلې څخه ئې يوه هم ډيره مهمه او ارزښتنا که وسيله شعر دے ، د اسلام له تاريخ څخه مخکې هم شاعر او دده کلام دواړه مقدس او سپيڅلي شيان بلل کيدل ډير زيات احترام ورته کيده ، دا ددې له وجې چې په حقيقت کښې شعر د خلکو د زړونو اواز　 وو ، د هغوي افکار به پکښې انځور شوي وو نو ددې ارزښت په اساس غواړو چې څرګنده کړو اسلامي شريعت شعر ته څه مقام ورکړے دے ، د شعر وئيل او ليکل په مطلق ډول جايز دي که څه　قيودات لري .دا چې ادب د ټولنې د ژوند هنداره او شعر د ولس غږ دے ، نو په همدې منظور مې وپتيله چې ګران هيوادوال د شعر له ديني حثيت څخه د الله جل جلاله او د رسول اکرم صلى الله عليه وسلم د اقوالو په رڼا کښې خبر کړم .

## په موضوع ليکلو کښې کړنلاره

يادہ موضوع يوه کتابتوني راټولونه ده چې ماپکښې د قرآن کريم او نبوي مبارکو احاديثو په رڼا کښې د معتمدوکتابونو، تفاسيرو او د احاديثو له کتابونو نه مې استفاده کړې ده او د شعر د حيثيت په هکله مې هغه صحيح او درست روايات را اخيستي چې د اهل علمو ورباندې اعتماد دے .

## د موضوع په اړه پخواني ليکنې

اړينه خبر داده چې مسلمان کوم عمل سرته رسوي يا کومه وينا کوي بايد د شريعت په رڼا کښې ئې ترسره کړي ميزان او معيار ورته شريعت و ټاکي، نو د قرآن کريم او نبوي احاديثو په رڼا کښې د شعر حيثيت بيانول سره ددې چې ډيره اړينه موضوع ده خو ما ئې په هکله په پښتو ژبه کښې هيڅ ونه موندل يوازې په عربي ژبه کښې ځينې داسې رسالې موجودې وې چې په ټوليز ډول ئې داسلام په رڼا کښې شعر ته کتنه کړے يا ئې د جاهليت د وخت شعر او شاعران څيړلے وو لکه د دوکتورې شهناز ظهير ليکنه (الادب الديني ) ، همدارنګه (الشعر و الغناء عند العرب ) د دوکتور سلامة محمد احمد ليکنه ،يا هم (الدراسات في الادب العربي) د احسان عباس او د هغه د ملګرو ليکنه، نو ځکه اړينه وه چې په دې هکله دې په پښتو ژبه کښې ليکنه تر سره شي چې ما هم د تفاسيرو او احاديثو له بيلابيلو کتابونو څخه دغه ليکنه راټوله کړه .

## د موضوع متن او اصلي محتوا

شعر د لغت له مخې د امام راغب د قول په اساس له دقيقې او باريکې پوهې څخه عبارت دے ، شاعر ته ځکه شاعر وائي چې ډير دقيق ، باريکبين او زيرک وي ۰ ۵: ص262.

همدارنګه د لغت له پلوه شعر د حس کولو او درک کولو په معنی سره هم راځي ۶۰: ج6 ص 342. د شعر په اصطلاحي تعريف کښې خورا ډيري نظرئې موجودې دي آن له افلاطون څخه تر نن پورې ئې پر يوه تعريف توافق نه دے شوے هر چا د خپل ليد لوري، پوهې او ايډيالوژۍ له مخې تعريف کړے دے خو هغه تعريف چې نږدې د ټولو تعريفونو رانيونکے دے دا دے چې : شعر هغه قافيه لرونکے او موزون کلام دے چې له پيله ئې د موزون والي قصد شوے وي ۴۰: ص532.

د منطق د علم علماء بيا د پورته تعريف څخه يو څه ورزياتوي او وائي چې: الشعر هو قول مؤلف من امور تخييلية يقصد به الترغيب و التنفير و يحصل للنفس منها القبض و البسط.

ژباړه : يعني شعر د خيالي امورو څخه يو مرکب کلام دے چې د ترغيب او تنفير لپاره وئيل کيږي، په انساني نفس د خوښۍ يا خفګان اثر غورځوي .

منطقيان په شعر کښې خيال او تخيل يو مهم عنصر ګڼي ، دوي هر کلام چې تخيلي ماهيت ولري شعر بولي ، حتی که موزون او مقفی هم نه وي ، له همدې ځايه وئيلاے شو چې دوي شعر په دوه برخو باندې ويشي چې يو ئې موزون او بل ئې منثور شعر چې د اوسني سپين يا ازاد شعر مرادف دے بللے شو .

اسلامي شريعت شعر وئيلو، شعر يادولو او ليکلو ته اجازه ورکړې ده ، خو د اصولو او قوانينو په چوکاټ کښې سره ددې چې د ابن خلدون د قول په اساس عربانو شعر ته د اسلام نه مخکښې ډير زيات ارزښت ورکولو داسې قصيدې به ئې په ياد حفظ کولې چې لسګونه بيتونه به ئې لرل، هيڅ داسې کور به نه وو چې هغې کښې به يو کس شاعر نه وو، په عربو کښې شعر وئيل ډير زيات د شرافت او عزت څخه ډک کار وو، د کعبې شريفې څخه د طواف په وخت کښې تلبيه په شعرونو کښې وئيل کيده ، د شعر وئيلو لپاره به ئې مسابقې جوړولې او شعر وئيل به ئې الله جل جلاله ته د نږديوالي وسيله بلله تر دې چې اصمعي د ابوعمرو بن العلاء څخه رانقل کړي چې د جاهليت په وخت کښې به خلکو شاعر ته دومره په درنه سترګه کتل او هغه به ئې معزز ، حکيم او پوه شخص ګاڼه لکه پيغمبر، يو تن ترهغې بشپړ او کامل او په اصطلاح سړے نه بلل کيده تر څو به چې له دريو کارونو څخه په يوه باندې سم نه پوهيده چې له شعر وئيلو، ليک او لوست او ښه ويشتلو څخه عبارت وو ،له دې جوتيږي چې د اسلام د مبارک دين له راڅرګنديدو وړاندې د عربو او غير مسلمانو خلکو ټوله يا هم زياته توجه د شعر وئيلواو شعر يادولو ته وه، خو کله چې اسلامي شريعت او احکام ئې د لوے الله جل جلاله له لورې د بشر د سمې لارښوونې لپاره رانازل شول شعر ته ئې دومره توجه کول چې له بل هر څه څخه دې سړے بې پروا او مصروف کړي منع کړاو مسلمانان ئې په دې وپوهول چې شعر وئيل ښه او مباح کار دے خو داسې نه شي چې سړے د شعر وئيل ددين د نورو برخو او نورو ديني کارونوله ترسره کولو څخه غافله کړي .

که چېرې مونږ د شعر کلمه د لوے الله جل جلاله په مبارک کلام کښې وپلټو نو مومو چې دغه کلمه په قرآن کريم کښې يوازې شپږ ځايه راغلې ده ، چې له جملې څخه ئې پنځه ځلې هغه ځايونه دي چې د مکې مشرکانو او کفارو رسول الله صلی الله عليه وسلم ته د شاعر نسبت کړے ، قرآن کريم ئې شعر بللے او الله جل جلاله ددوي دغه خبره رد کړے او تش دروغ او افواهات ئې بللي دي ۱۵۰: ج۱،ص ۳۷ .

په يوه ځاے کښې قرآن کريم شعر د يو فن په توګه معرفي کړے دے چې کيدلاے شي د خير او شر دواړو مواردو کښې ترې ګټه واخيستل شي چې په څرګند ډول ترې جوتېږي قرآن کريم د شعر سره مخالف نه دے بلکې هغه تګلاره او منهج څاري کوم باندې چې د شعر ويونکے شاعر روان دے که چېرې بې مفهومه او د حقيقت څخه ليرې بې قانونه ويناګانې وي نو دغه ډول شعر په اسلام کښې ممنوع او له وئيلو څخه ئې شاعر منع شوے دے ۱۳۰: ص ۳۳

شعر په حقيقت کښې د قرآن کريم د تفسير يوه سرچينه ده ، عمر فاروق رضی الله عنه به وئيل چې ((عليکم بديوان العرب فإن فيه تفسير کتابکم)) يعنې د عربو له ديوانونو څخه استفاده وکړئ بيشکه په دې کښې ستاسې د کتاب (قرآن کريم) تفسير دے .

همدارنګه حضرت عمر رضی الله عنه د بصرې والي ابوموسی اشعري رضی الله عنه ته ليکلي وو چې ((مر من قبلك بتعلم الشعر فإنه يدل على معالي الأخلاق وصواب الرأي ومعرفة الأنساب))يعنې هغه چاته چې ستا په وړاندې دي امر وکړه چې شعر زده کړي ، ځکه د شعر زده کول د اخلاقو په اوچتوالي ، د رأے په سموالي او د نسبونو په پيژندلو باندې دلالت کوي ۳۰: ص ۴۱ .

د شعر په اړه الله جل جلاله په قرآن کريم کښې فرمايلي دي :

وَالشُّعَرَاءُ يَتَّبِعُهُمُ الْغَاوُونَ (224) أَلَمْ تَرَ أَنَّهُمْ فِي كُلِّ وَادٍ يَهِيمُونَ (225) وَأَنَّهُمْ يَقُولُونَ مَا لَا يَفْعَلُونَ (226) إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَذَكَرُوا اللَّهَ كَثِيرًا وَانْتَصَرُوا مِنْ بَعْدِ مَا ظُلِمُوا وَسَيَعْلَمُ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَيَّ مُنْقَلَبٍ يَنْقَلِبُونَ (227).۱۰:الشعراء۲۲۴

ژباړه : او شاعران چې دي ددوي پيروي ګمراهان کوي ، ايا ته نه ګورې چې دوي (د هرې موضوع) په کنده کښې (د ليونيانو غوندې) ورلوېږي(او د حق او باطل لحاظ ئې نه ساتي)، او(ته نه

کورې چې) یقیناً دوي هغه څه وائي چې کوي ئې نه ، مګر هغه کسان (ذکر شوي خاصیتونه نه لري) کومو چې ایمان راوړے او نیک عملونه کوي او (هم) الله جل جلاله ډیر یادوي ، او د هغه وخت څخه وروسته انتقام اخلي چې په دوي باندې ظلم وکړے شي، او ژر دے چې هغه کسان به پوه شي کومو چې ظلم کړے دے (کفر ئې اختیار کړے دے) چې دوي به د ورتاویدلو کوم ځائے ته ورتاو شي (چې د دوزخ څخه عبارت دے).

هر کله چې پورتني ایاتونه رانازل شول نو د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم شاعران عبدالله بن رواحه، حسان بن ثابت او کعب بن مالک رضی الله عنهم د نبي کریم صلی الله علیه وسلم حضور ته حاضر شول او عرض ئې وکړ چې ای د الله رسوله ! الله تعالی دا ایت رانازل کړے دے او مونږ هم شعرونه وایو ، نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل وروستنے ایت ولولئ (ستاسې اشعار د بېهوده او غلط هدف لپاره نه دي) په دې وجه تاسې په استثناء کښې داخل یئ کومه چې د ایتونو په وروستۍ برخه کښې رانازله شوې ده ، له همدې کبله مفسرین کرام وائي چې د ایت په پېل کښې مشرکین شاعران مراد دي ځکه ګمراه خلک ، سرکشه شیطانان او نافرمانه پیریان به ددوي د اشعارو تابعدار وو او هغه به ئې روایت کاوه ۲۰: ج ۱۰ ص ۵۳۸.

په پورته ایاتونو کښې الله تعالی په هغه چا باندې رد کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د شاعر نسبت کوي او ورته وائي چې محمد صلی الله علیه وسلم شاعر نه دے په شاعرانو کښې ئې ځینې ناوړه او ځینې ئې د ښوصفاتو درلودونکي دي همدرانګه قرآن په دې آیتونو کې نه یوازې د قریشو د جهل وهلې او شرک ځپلې ټولنې شعراء مونږ ته معرفي کوي بلکې بد شعر او خراب شاعر هم رامعرفي کوي او دا ئې ځانګړتیاوې ګڼي:

لار ورکي او بدکاران به دی او د ده شعر خوښوي، د ده شعر به د دوی په محفلونو کې زمزمه کیږي، دی به د هغوی ملګری وومې او هغوی به د ده ملاتړي.

د ده د اشعارو له مخې به په دې پوه نه شې چې د ده هدف څه دئ؟ خپل مخاطب څه ته بلي؟ بس هغه لیوني ته ورته دئ چې لالهانده، کله په یوې درې سر شي او کله په بل ناو، د ده په

شعرونو کې به واضح او سپېڅلی پيغام ونه مومې، بس غواړي خپل مخاطب راضي کړي، له هغه څه ترلاسه کړي، که نور هېڅ نه وي نو يو شاباسی خو ئې په برخه شي!!

هسي د بې مقصده ويناوو او خوشو خبرو ګوډی وي، په رګونو کې ئې د عمل کولو جوهر نه وي، د خبرو د ميدان اتل وي خو د عمل د ميدان ملا ماتی او شل، هغه څه وائي چې نه ئې د کولو اراده لري او نه ئې همت!

قرآن د شاعرانو له مخکنۍ ډلي هغه شاعر مستثنی کوي چې ځانګړتياوي ئې دا وي:

• د ايمان خاوند وي، شعر ئې له ايمان راخوټېدلی او د ايمان په خدمت کې، هغه چې د ده د هر شعر په هري مصرع کې به د ايمان نبني وګورې.

• د عمل د مېدان مېړنی وي، عمل ئې نېك وي، تر دې د مخه چې شاعر وي يو صالح انسان وي، داسي نه دئ چې په عمل پاني کې ئې له شعره پرته بل څه نشته، د ژوند ټوله پانګه ئې يوازي څو اشعار دي، ټول عمر، وختونه او استعدادونه ئې د دغي پانګې په ترلاسه کولو کې ضايع کړي، بلکې هغه يوازي د فراغت وختونه د شعر ليکلو او وئيلو ته مختص کړي.

• تل ئې الله تعالی په ياد وي، ژبه ئې د الله په ياد لمده، زړه ئې د الله په ياد درېبږي، شعر ئې له ذاکر زړه راخوټېدلی، په خپلو اشعارو کې خدای ډېر يادوي، که څوك ستايي نو هغه خدای دئ، که له چا سره د مينې اظهار کوي هغه خدای دئ، که له چا طمع يا وېره لري نو هغه يوازي خدای دئ، خدای پالي، خدای لمانځي، له خدايه مرسته غواړي، د الله په لوري بلنه ورکوي.

• مبارز او مجاهد شاعر دئ، له مظلومانو دفاع کوي، له ظالمانو د غچ اخيستلو لپاره ملا تړي او په خپلو انقلابي او ظالم ځپونکو اشعارو سره د ظالمانو پر سر کلك کلك مرګوني ګوزارونه کوي، د ظالمانو په ضد پاڅون ته بلنه ورکوي او د مظلومانو دردونه منعکس کوي.

په دې مبارکو آيتونو کې د قرآن هر مؤمن مخاطب ته دا لارښوونه شوې چې د ښکلي شعر او د قدرمن، درووند او هدفمن شاعر د تشخيص او پېژندو په اړه بايد دا دقيق الهي معيار په پام کې ولري او هر شعر او شاعر په دغي تلي وتلي؛ هغه شاعر ته د يوه مؤمن او متعهد شاعر په سترګه وګوري چې دغه ځانګړتياوي ولري، د شعر هغه ديوان لري وغورځوي چې د لوړو معنوي ارزښتونو په خدمت کې

نه وي، هغه خو تر پښو لاندي کړي او اورته ئې وغورځوي چې د ګنده میني او عشق خبري کوي، ساقي، می او ساغر ستايي، د خپل ګاونډي د لور او خور سور شال، تور خال، زلفي، شونډي او د کميس د لمني نوم په خوله اخلي، په اشعارو کي ئې نه د حق ملاتړ وي او نه د باطل غندنه، نه د مظلوم ملګرتيا او نه د ظالم مخالفت. د هغه چا ديوان چې يا پاچيان او د هغوی رنګين رنګين دربارونه او محفلونه ستايي، يا د کلي هغه ګودر چې پيغلي ترې اوبه وړي او دا شاعر به په خپلو اشعارو کي داسي وموميځ چې د ګودر په لار کي، د کوم مات دېوال او وني شا ته پټ ولاړ دئ، د غله په څېر ګودر ته د راتلونکو پيغلو ننداره کوي!!

د هغه شاعر او د هغه د ديوان درناوی وکړئ چې د ګودر په ځای د سنګر ستاينه کوي، د تورو زلفو په ځای د حقپالو مجاهدينو تېرې توري ستايي، د يار د سرو شونډو په ځای د هغو مجاهدينو سره پرهارونه او تغمې تغمې بدنونه يادوي چې په سنګرونو کي په شهادت رسېدلي او په زندانونو کي تر بې رحمانه تعذيبونو لاندي پاتي شوي، خو صبر ئې کړی او دښمن ته نه دي تسليم شوي.

د پورتنيو اياتونو په استناد ټول مفسرين په دې اتفاق لري چې د شعر په اړه په مطلق ډول د ښه يا بد حکم نه شي کيدائے بلکې د محتوا، مضمون او هدف په لحاظ په قبيح او حسن ويشل کيدائے شي .

ښه شعر نبي کريم صلی الله عليه وسلم حکمت بللے ، او فرمايلي ئې دي چې (إِنَّ مِنَ الشِّعْرِ حِكْمَةً) بيشکه د شعر څخه ځينې ئې حکمت دے ۷۰: ج ۸ ص ۳۴

دغه راز په بيا بيا نبي کريم صلی الله عليه وسلم د صحابه کرامو دوخت شاعران تحسين کړي او هغوي ئې د کفارو په خلاف شعر وئيلو ته هڅولي دي د رسول الله صلی الله عليه وسلم له شاعرانو څخه يو هم کعب بن مالک انصاري رضی الله عنه وو، رسول الله صلی الله عليه وسلم د هغه له شاعرۍ سره ځانګړې مينه لرله، يو ځل پخپله د هغه کور ته ورغے ، او ورته ئې وفرمايل : ابوعبدالله د خپلو اشعارو څخه يو څه راته واوروه، نو هغه ورته يو څو شعرونه ووئيل ، هغه ورته بيا يو څو شعرونه واورول ، بيا ورته په دريم ځل وفرمايل نور ووايه ! هغه د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د حکم په

اساس نو شعرونه هم ووئيل، بيا ورته نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل:هذا اشد عليهم من رفع النبل ۸۰: ج4ص 38.

يعنې ددې شعرونو ګوذار په کافرانو باندې د تورې له ګواذار څخه سخت دے .

د مکې په قريشو کښې ډير لوے لوے شاعران وو، هغوي به په خپلو شعرونو کښې د رسول الله صلى الله عليه وسلم او صحابه کرامو په تقبيح او تذميم کښې شعرونه وئيل چې د هغوي دغه ناوړه تبليغات به په ډير کم وخت کښې په توندئ سره په ليرې او نږدې سيمو کښې خپرېدل ، د مدينې مسلمانان چې کله د دښمنانو له دغه فعاليتونو څخه خبر شول په رواني او حياتي لحاظ ئې د سخت تکليف احساس وکړ ، حضرت علي ته ئې وړانديز وکړ چې د مکې د شاعرانو د ناوړه او ناروا پروپاګندونو ځواب ورکړي ، هغه دغه وړانديز ومانه ، وئې وئيل : زه حاضر يم خو په دې شرط چې رسول الله صلى الله عليه وسلم اجازه راکړي ، نو صحابه کرام د رسول الله صلى الله عليه وسلم حضور ته ورغلل او وړانديز ئې وکړ : چې يا رسول الله زمونږ موروپلار دې درنه ځار شي ، مشرکان ستا او ستا د ملګرو په شان کښې ناوړه اشعار وائي او پروپاګندونه خپروي که ستا اجازه وي نو جضرت علي به د هغوي ځواب ووائي؟ نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل (علي ددې کار وړ نه دے) بيا وروسته ئې د انصارو خواته مخ واړاوه ، وئې فرمايل کومو خلکو چې په تورې سره زما ملاتړ کړے هغوي په ژبې سره زما ملاتړ نه شي کولاے ؟

په دې وخت کښې حضرت حسان رضى الله عنه پاڅيده عرض ئې وکړ : يا رسول الله ددې کار لپاره زه حاضر يم په خداے قسم دے ، د شام ، بصرې او د يمن د صنعاء ترمنځ به ماته له هغه کلام نه بل محبوب کلام نه وي چې د رسالت د دښمنانو په ځواب کښې ووئيل شي .

ډيرے داسې وختونه به پيښيدل چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به د شاعرانو د خدمتونو ستاينه کوله ، يو ځل ئې حسان رضى الله عنه ته امر وکړ حسانه ! زما له خوا د کافرانو ځواب ووايه ! ورسره ئې دعا وکړه (الهي د روح القدس په ذريعه دده مرسته وکړه ) ۱۰: ج 6ص 119.

يو بل کرت ئې ورته وفرمايل : اى حسانه ! ته چې کله د مشرکانو تقبيح کوې نو جبريل عليه السلام له تاسره ملګرے وي۷۰: ج 5 ص 113.

په مسجد کښې شعر وئيل :

که چېرې په مسجد کښې هغه اشعار ولوستل شي چې شرعي مضامين پکښې انځور شوي وي نو باک ئې نشته ځکه چې : د ام المؤمنين عايشې رضی الله عنها نه روايت دے چې حسان بن ثابت رضی الله عنه ته به په مسجد کښې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په امر ممبر ايښودل کېده چې د هغه د پاسه به ئې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم دفاع کوله ۹۰: ج ۲ص۱۱۱،حديث الباني صحيح بللے دے.

همدارنګه د جابر بن سمرة نه رضی الله عنه نه روايت دے چې : زه د نبي کريم صلی الله عليه وسلم سره د سلو کرتو نه زيات ناست شوے يم چې صحابه کرامو به ئې په حضور کښې اشعار لوستل او د جاهليت د زمانې ځينې کارونه به ئې يادول ، حال دا چې ((وَهُوَ سَاكِتٌ، فَرُبَّمَا يَتَبَسَّمُ مَعَهُمْ)) حال داچې نبي کريم صلي الله عليه وسلم به چوپ وو خو کله - کله به ئې ورسره مسکا هم کوله. ۹: ج ۲ص۱۱۲، امام الباني دغه حديث صحيح بللے دے.

## حماسي شعر

د شعر اغيزمنتوب ته په پام سره د جګړې له اغيزمنو ابزارو څخه ګڼل کېږي ، د شعر اثرات د تاريخ په بيلابيلو پړاونو کښې په بيا بيا ليدل شوي دي او د يو ه منل شوي واقعيت بڼه ئې غوره کړې ده ، د کفارو په ضد اشعار وئيل د هغوي په مقابل کښې يو ډول مبارزه ده ، نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي ((إِنَّ الْمُؤْمِنَ يُجَاهِدُ بِسَيْفِهِ وَلِسَانِهِ)) يعنې يقينا مؤمن سړے په خپله توره او خپله (دوارو)سره جهاد کوي ۱۲۰: ج۵ص۳۵۰

همدارنګه نبي کريم صلی الله عليه وسلم په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي (هِيَ أَسْرَعُ فِيهِمْ مِنْ نَضْحِ النَّبْلِ)) يعنې دا شعرونه په کفارو کښې د غشو د ويشتلو څخه په زياتې تيزۍ سره اثر کوي۹۰: ج ۲ ص ۱۱۲،

حديث الباني صحيح بللے دے .

## خراب شعرونه

هغه شعرونه چې دروغ وي ، د حرامو او ناروا خواته بلنه ورکوي ، په کفرياتو او عبثياتو باندې مشتمل وي د خلکو غولونه او دوکه کول پکښې وي او يا هم د فحشا او بې حيايۍ خواته بلنه کوي، د ښځو د اندامونو تعريفونه او د هغوي خواته د خلکو متوجه کول پکښې وي د خرابو شعرونو په نوم يادېږي هر مسلمان ته پکار داده چې د قرآن کريم د حکم په اساس د داسې شعرونو د وئيلو او اورېدولو څخه ځان وساتي ام المؤمنين عايشه رضى الله عنها فرمايي ((الشِّعْرُ كَلَامٌ فَمِنْهُ حَسَنٌ وَمِنْهُ قَبِيحٌ فَخُذِ الْحَسَنَ وَدَعِ الْقَبِيحَ)) ۸: ج4ص 38.

يعني شعر د کلام يوه برخه ده چې ځيني(برخې) ئې ښې دي او ځيني ئې بدې دي نو ښې ئې واخلئ او بد رنګې ئې پرېږدئ.

بد اشعار او په تېره بيا هغه اشعار چې سرود او ګډا ورسره وي د بې دينۍ ډېره لويه ذريعه ده، عبدالله بن عباس رضى الله عنهما په يوه اثر کښې فرمايي : چې کله مکه معظمه فتح شوه نو شيطان په ژړغوني لهجه اواز پورته کړ او خپله ټوله اولاده ئې ورغونډه شوه، نو دوي ئې مخاطب کړل ((ايَئِسُوا أَنْ تردوا أُمَّةَ مُحَمَّدٍ عَلَى الشِّرْكِ بَعْدَ يَوْمِكُمْ هَذَا، وَلَكِنْ أَفْشُوا فيهما- يعنى مكة والمدينة- الشعر. )) يعني تاسې ددې څخه نااميده شئ چې ددې ورځې څخه وروسته به د محمد امت بيرته په شرک باندې ورتاو کړئ، خو تاسې په مدينه منوره او مکه مکرمه کښې شرع رواج او خپور کړئ (چې دا د اخلاقي فساد ډېره ښه ذريعه ده) . ۱۶: ج ۱۳ص ۱۵۲.

که چېرې څوک پوښتنه وکړي چې هغه کوم يو دم دے چې شيطان ئې په خلکو باندې چف کوي او زنا ته ئې سوق کوي ؟

نو ځواب دادے چې د زنا دم غير شرعي شعرونه او غزلې دي.۱۴ :ج۹ص ۱۶۶.

هغه اشعار چې قرآن کريم ، الهي اذکار او علم ته پکښې ځاے نه وي ورکړل شوے نبي کريم صلى الله عليه وسلم هم ترې منع کړې ده ، دغه ډول شعرونه ئې په جومات کښې لوستل هم منع کړي دي ابوسعيد الخدري رضى الله عنه وائي چې : مونږ د رسول الله صلي الله عليه وسلم سره په ((عرج)) نومي ځاے کښې روان وو چې يو شاعر راپيښ شو او د شعر په وئيلو باندې اخته وو، نو

نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې : ((خُذُوا الشَّيْطَانَ أَوْ أَمْسِكُوا الشَّيْطَانَ لَأَنْ يَمْتَلِئَ جَوْفُ رَجُلٍ قَيْحًا خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَمْتَلِئَ شِعْرًا))۱۷: ج11 ص 343.

يعني دغه شيطان راونيسئ يا ئې بند کړئ ، ضرور چې د کوم سړي ډکه د زوو څخه ډکه شي، دا ورته ددې څخه بهتره ده چې د شعر د حيثه ډکه شي .کوم اشعار چې د اسلامي شريعت د اوامرو سره په ټکر کښې نه وي د هغې اوريدل جايز دي ځکه عمرو بن شريد له خپل پلار څخه روايت کوي چې ما نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته د امية بن ابي الصلت (کافر)اشعار اورول نو د هر بيت په اورېدو سره به ئې راته امر کاوه چې بل هم راته واوروه ، آن تر دې چې ټول اشعار سلو بيتونو ته ورسيدل ، بيا نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې نژدې وه نومړے کافر شاعر مسلمان شوے وي.

نبي کريم صلی الله عليه وسلم شعر وئيلي دے:

> د عبدالمطلب(د نبي کريم صلی الله عليه وسلم نيکه) او لاده - نارينه وو که ښځينه- ټولو شعر وئيلے شو او ټول شاعران وه، مګر يوازې نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته الله جل جلاله شعر نه وو ښودلے او اشعار ئې نه شو جوړولاے ۱۱۰: ۳ ص ۵۷۸.

لکه چې په ايت کريمه کښې ورته اشاره شوې ده الله عزوجل فرمايي مونږ خپل پيغمبر (محمد) ته د شعر وئيل نه دي ښودلي ، دده سليقه مو د شعر وئيلو د پاره نه ده پيدا کړې ، بلکې دده د شان سره هم شعر جوړول مناسبت نه لري ځکه چې شعر په تخيلاتو ولاړ وي او دده کلام سراسري واقعيات او حقايق دي هلته چې الله فرمايي ((وَمَا عَلَّمْنَاهُ الشِّعْرَ وَمَا يَنْبَغِي لَهُ)) 1:د يس سورت (۶۹)ايت.

ژباړه : او مونږ پيغمبرصلی الله عليه وسلم ته شعر جوړول نه دے ورښودلي او نه ورته دا کار مناسب دے.

کومو روايتونو کښې چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم نه منظوم کلام روايت شوے دے نو علماء کرام ئې په هکله وائي چې : د نبي کريم صلی الله عليه وسلم دغه کلام د شعر د تعريف لاندې نه

راځي ځکه وړاندې مونږ د شعر په تعریف کښې یادونه وکړه چې د هغه منظوم کلام نوم دے په کوم کښې چې سجع او نظم تر هر څه وړاندې په نظر کښې نیول شوي وي ، نو کوم شعر کښې چې وزن او کلام په اتفاقي (ناڅاپي) توګه صورت نیولے وي هغه د شعر په نامه نه شو یادولے .او یا داچې د یو شعر یا دوه شعرونو په وئیلو سره څوک شاعر نه بلل کېږي لکه څنګه چې په جامه باندې د یو درز (بخیه) یا دوه درزو په تیرولو سره څوک د خیاط لقب نه شي ګټلے۱۷۰: ج۱۵ص ۵۳.

الشعر في ضوء القرآن و السنة

الباحث : استاد المحاضر احسان الله ناصح

كلية الشريعة ، قسم التفسير

النتايج التى توصلت اليها خلال البحث هي كالتالي :

الشعر في اللغة عبارة عن العلم و الشعور و في الاصطلاح هو كلام مقفى الموزون على سبيل القصد ، ليس في اباحة الشعر خلاف ، و قد قاله الصحابة و العلماء ، و الحاجة تدعو اليه لمعرفة اللغة العربية ، و الاستشهاد به في التفسير، و تعرف معاني كلام الله تعالى و كلام رسوله صلى الله عليه وسلم، و يستدل به ايضاً على النسب و التاريخ ، لكن النبي صلى الله عليه وسلم حجب عن الشعر و اصابة النبي صلى الله عليه وسلم وزن الشعر لايوجب انه يعلم الشعر، و لا يلزم من ذلک انه كان عالماً بالشعر و لا شاعراً لان اصابة القافيتين من الرجز و غيره من غير قصد كما قال القرطبي : لا توجب ان يكون القايل عالماً بالشعر و لا يسمي شاعراً ، كما ان من خاط خيطاً لايكون خياطاً، لكن ان النبي صلى الله عليه وسلم سمع الشعر و رغب الصحابة في الشعر و كان له شعراء خاصة كحسان بن ثابت و ابى بن كعب و عبدالله بن رواحة .

**وړاندیزونه**

- د ټولو هغو ورونو څخه مې هیله داده چې شعر وائي یا شعر لیکي د شعر په وئیلو او لیکلو کښې د اسلامي شریعت اصولو ته پام وکړي ، د هغو اشعارو څخه ځان وساتي د کوم ډول څخه چې په قرآن کریم اونبوي احادیثو کښې منع راغلې ده .

- له هغو ورونو ځخه چې شعر اوري يا ئې لولي، غوښتنه کوم هغه اشعار نه واوري او نه هم ولولي چې د اسلامي مقدساتو سره په ټکر کښې وي يا هم د فحشا د خپرولو او رواجولو يوه وسيله وي.
- هغه شعرونه چې د الله تعالی او يا د رسول الله صلی الله عليه وسلم ستاينه پکښې وي د موسيقۍ او سرود سره ګډ نه کړل شي، که چېرې دغه ډول شعرونه د سرود سره ګډ وئيل شوي وو نو د اوريدلو ځخه ئې بايد ځان وساتل شي .

## ماخذونه


۱: قرآن کريم .

۲: ابن حجر، أحمد بن علي أبو الفضل العسقلاني الشافعي.(1399 ه ق).فتح الباري شرح صحيح البخاري،بيروت:دار المعرفة.

۳: احمد ، دوکتور محمد عبدالقادر ، دراسات في ادب ونصوص العصر الاسلامي ، مكتبة النهضة المصرية.

۴: اشبيلي, عبد الرحمن بن محمد بن خلدون الحضرميّ, مقدمة ابن خلدون , دار الفكر، بيروت.

۵: الأصفهانى , أبو القاسم الحسين بن محمد المعروف بالراغب, المفردات في غريب القرآن, دار القلم، الدار الشامية - دمشق بيروت.

۶: الإفريقى ، محمد بن مكرم بن على، أبو الفضل، جمال الدين ابن منظور، لسان العرب ، دار صادر – بيروت.

۷: البخاري، محمد بن اسماعيل ابوعبدالله.(۱۹۸۷م).صحيح البخاري، بيروت:دارالفكر.

۸: البيهقي، ابوبكر احمد بن الحسين بن علي.(۱۴۱۲ ه ق)السنن الكبرى وفي ذيله الجوهر النقي،لومړے ټوک ، حيدراباد:مجلس دائرة المعارف النظامية.

۹: الترمذي، محمد بن عيسى ابوعيسى.(1998م).سنن الترمذي، ، بيروت:داراحياء التراث العربي.

۱۰: الحاكم، محمد بن عبدالله ابوعبدالله الحاكم.(۱۹۹۰م).المستدرک على الصحيحين، بيروت:دارالكتب العلمية.

۱۱: الدمشقي ، أبو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير(1420هـ ق - 1999 م ) ، تفسير القرآن العظيم ، لومړے ټوک ، دار طيبة للنشر والتوزيع.

۱۲: الشيباني، ابوعبدالله احمد بن حنبل.(۲۰۰۱م).مسند الامام احمد بن حنبل، بيروت:مؤسسة الرسالة.

۱۳: العاني ، دوکتور سامي مكي ، الاسلام والشعر(۱۴۳۷ هـ ق) ، علم المعرفة.

۱۴: عزيز، ابوحذيفة مولوي سلطان عزيز.(۱۴۲۹هـ ق) عزيز التفاسير ، دار الكنوز العلمية ، پيښور ، پاكستان.

١٥: العينى ، بدر الدين أبو محمد محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد (1420 هـ ق - 2000 م )، عمدة القاري شرح البخاري ، دار الكتب العلمية - بيروت، لبنان.

١۶: القرطبي ، أبو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر الأنصاري الخزرجي شمس الدين(1423 هـ ق / 2003 م)، الجامع لأحكام القرآن ، دار عالم الكتب ، الرياض ، المملكة العربية السعودية.

١٧: القشيري، مسلم بن الحجاج ابوالحسين القشيري.(1408هـ ق).صحيح مسلم، بيروت:داراحياء التراث العربي.